استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

از منابع دیگر
دوشنبه ۰۸ جولای ۲۰۲٤

د (حسام ) پیام د آینده غورځنگ

# دکنفرانس او د هغه د پریکړنی اورغنده پریکړو او تصامیمو په درشل کی

محترمو ملگرو او د رښتینی کینڼ اړخ دلاری نه سترې کیدونکو لاروایانو.

لکه چی تا سو ته پوره معلوم دی، اوه کاله مخکی زمونږ غورځنگ په هغه شرایطو او حالاتو کی چی د طالبی برلاسی زمونږ په هیواد کی مسلط وه او کینڼ اړخ لارویان د ناامیدی اوبی سرنوشتی توره تررږمی کی لاس او پښی وهل او له خپل گران هیواد څخه د مهاجرت او یا هم د وتلو په حال کی وه سر را پورته کړل او تولو کینڼ اړخ، دموکرات، وطنپال او پر هیواد مینو روشنفکرانو ته بلنه ورکړ، چی خپل صفونه سره نژدی کړی او د آزادی خواهی او وروړگلوی رپانده بیرق اوچت کړی او دخپل هیواد د اولس، او د بی وزلو او زیار کښانو په پلوی خپل نه سترې کیدونکی مبارزی ته نوی بنه ورکړی، او د خلاصون لاره ولټوی، له بده مرغه د وطن دگوند ځنی نیم لاری ملگری د خپل ناوړی او شوم اهدافو په نظر کی نیولو سره د وطن دگوند ډیر شریف او پاک لارویان بی ناسم لاری ته رهبری کړل، چی تاسی تولو ته اوس لکه د لمر په څیر روښان دی.

د یادونی وړ دی، چی لا تر اوسه ځنی ځنی خپل لاره ورکه کړی او د بی سرنوشتی شپی او ورځی تیروی، اوحتا ځنی په دی باور هم وه چی امریکا او دهغه غربی یاران به زمونږ وران هیواد له سره به ودان کړی، او په همدی پلمه نن هغه خوش باور او د نیمی لاری دوستان د هغه قسم خوړلی غلیمانو په قطار کی ولاړ او خپل لاره دربتینی کینڼ اړخولارویانو څخه بیل او د تاریخ په لزنجار کی لاس اوپښی وهی. او خپل دړی لاپسی توروی.

گرانو ملگرو، زمونږ لار روښان او ربښتینی دی، اوهغه هوډ چی مونږ د مبارزی له پیل څخه کړی وه همغسی ټینگ او استوار په مخ ځو. هیله لرم چی د آینده غورځنگ د کنفرانس پریکړی د افغانستان د زحمتکشانو د ژوند دسمون او د دی وضعی د راوتلو لاره هموار کړی.

salamwatanam@gmail.com

زه په دی باور یم چی د دی کنفرانس ګډونکونکی ملګرو او دوستانو د هغه پوهاویاو تجربی په لرلو سره وشی کولای چی د ملګرتیا په اتموسفیر کی ټول ستونزی وځیړی او له ستونزو څخه د وتلو لاره هموار کړی، او د خپل راتلونکی نسل د پاره د مبارزی سمه لاره په ګوته کړی، او خپل وجدانی او انقلابی دندی په پوره ایمانداری سره سرته ورسوی.

زه یوځل بیا د آینده غورځنګ رهبری او دهغه په سر کی دګران اومحترم دانشمند دوکتور عبدالله (نایبی) او د غورځنګ له غړو او خپل دوستانو نه د زړه د کومی چی د دی کنفرانس د جوړیدو په درشل کی هلی ځلی کړی او کوی مننه کوم.

او زه پخپل وار سره تعهد کوم چی د تاسو سره یوځای د خپل غورځنګ د لا پیاوړی کیدو په لاره کی له هیڅ ډول هڅی اواند څخه سر غړونه و نکړم او د کنفرانس د پریکړو ټول اسناد د خپل لاری مشعل او راهنما وګرځوم. زه خپل دغه پیغام د دی لاندی خپل شعر سره سرته رسوم.

ای د خوارو او بی وزلو پلویانو

ای د سمی لاری ګرانو عزیزانو

لار پیچلی، ستاسی لوی عزم غواړی

را نژدی کړی خپل صفونه لارویانو

په یوالی سره رسی خپل هدف ته

ځانځانی ګټه نشته خوږ یارانو

هوښیاری سره ګامونه مو اوچت کړی

زر بری مو شی په برخه هوښیارانو

د نقاد نړی لید په روښانه رڼا کی

هرستونزه به شی حل حق پرستانو

******************************

د آینده نهضت دکنفرانس د ښی لاسته راوړنی په هیله

نوشته: سید حسام "مل" بر وزن "کارمل"

نوت: عبدالله نایبی یکی از سرسپردکان ببرک دربارمل.

---

استقلال- خپلواکی: اگر زبان زیبای پشتو با موجودیت چنان خائنین و فروخته شده گان، زنده است، پس وای به حال زبان زیبای پشتو و بدا به حال ما. قضاوت با هموطنان شریف و آزادۀ ما.